مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال

۲۰۲۳/۰۴/۰۲

# غزل

نه دې د چا له جنازې سره اوږه وړې ده
نه دې په کلي کې تیاره کور ته ډیوه وړې ده

نه د کوم ځوان په ورا کې تللی یې د بل تر کلي
نه دې په سره ډولۍ کې ناوې پښتنه وړې ده

تا په سپېره انګړ کې خواره پېغله څه لیدلې؟
نه دې په زړه کې د هغې خوارې لمبه وړې ده

نه دې تودې نه دې سړې لیدلې, ژوند دې کړی
نه دې جانان سره په مینه کې ګیله وړې ده

تا د بې وزله یتیم سترې سلګۍ ونه لیدې
نه دې ظالم سرې ترخه او پټکه وړې ده

نه دې غله ولیدل چې ورغلل په دنګې کلا
نه دې کوټې سورۍ کړکۍ, نه دروازه ولیده

نه په بهر کې نازولی لکه ګل غوړېدې
نه دې دېرې ته چلمچې نه دې کوزه وړې ده

نه دې لیدلي چې له سین نه سرۍ څنګه تېر شي؟
نه دې کونړ سین کې له چا سره جاله وړې ده

نه سنګروال غوندې ښېبره دې پر مخ خوړلې
نه دې تربره د پټکو ترخه ناره وړې ده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ